محمد هارون خپل شعشعی


۱۰ فبروری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د يرغلګرو لښکرو
# د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي شننه
# ۱۱

**د انساني کرامت پر خلاف جنايتونه:**

***د جزا د بين المللي محکمې د روم اساسنامې د اتمې مادې د دوهم پاراګراف د ( ب ) فقرې په يوويشتم (۲۱) جُزء کي د انساني کرامت پر خلاف جرمونه، په تېره بيا د سپک او تحقيرانه چال چلن يادونه سوې ده. دغه رنګه، د دې اساسنامې د اوومې مادې د دوهم پاراګراف په ( ز ) فقره او د اتمې مادې د دوهم پاراګراف د ( ب ) فقرې په دوه ويشتم (۲۲) جُزء کي د جنسي تېرې، جنسي مريتوب، جبري فحشا، جبري اوميدواره کولو، اجباري شنډولو او جنسي زورزياتي د نورو ډولو په اړه صريح يادونه سوې ده، چي ګرده په واقعيت کي د جينيوا د څلورو کنوانسيونو د مشترکي دريمي مادې سخته سرغړونه ګڼله کيږي. البته، د انساني کرامت د درناوي مسأله د خپل لوړ او اساسي ارزښت په خاطر د بين المللي حقوقو په ډېرو نورو معتبرو اسنادو او وثايقو کي هم درج سوې ده. د بشر د حقوقو نړيوالي اعلاميې د بشري حقوقو د خوندي کولو او تضمين د خورا معتبر سند په توګه په خپلو ډېرو مادو کي د انساني کرامت د تعظيم او تکريم بېلابېل اړخونه بيان کړي دي؛ مثلاً په لومړۍ( ۱) ماده کي د انساني کرامت او حقوقو د برابرۍ موضوع تصريح کړې ده. د پينځمي ( ۵ ) مادې په وروستۍ برخه کي، په روښانو ټکو، داسي سپارښتنه کړې ده: « له هيچا سره بايد داسي چال چلن و نسي، چي د هغه په وجه يې انساني مقام کښته سي.» بالاخره د همدې اعلاميې په اتلسمه ماده کي د فکر، وجدان او ديني  آزادۍ حُکم پيشبيني سوئ دئ.***[۷۲] د مدني او سياسي حقوقو په اړه د ملګرو ملتو بين المللي کنوانسيون ( دا کنوانسيون د ۱۹۶۶ع کال د ديسمبر پر شپاړسمه تصويب سوئ؛ او د ۱۹۷۶ع کال د مارچ پر درويشتمه نافذ سوئ دئ ) هم په جلا جلا مادو کي د انساني کرامت د درناوي بېلابېل اړخونه بيان کړي دي. د دې کنوانسيون په اوومه ( ۷ ) ماده کي راغلي دي، چي له هيچا سره بايد د سپکاوي چلن و نسي. د دې کنوانسيون د لسمي مادې په اوله ( ۱) فقره کي حتا له بنديانو او توقيف سوو کسانو سره هم د بشپړ انساني او محترمانه چلن لاربښوونه سوې ده.[۷۳] ***د جينيوا څلور سره کنوانسيونه هم هر يو جلا جلا د انساني ژوند او انساني کرامت د مصوونيت يا خونديتوب و ارزښتناکي مسألې ته بېل سوي دي. دې  څلورو کنوانسيونو په ګډه، په تېره بيا د جګړې پر مهال د ملکي وګړو د ساتني په اړه د ۱۹۴۹ع کال د اګست د دولسمي نېټې څلرم کنوانسيون، په واقعيت کي د بين المللي بشردوستانه حقوقو اساس او تاداو ايښئ دئ. د دې مفصل او هر اړخيز***

***کنوانسیون د اولي ( ۱ ) مادې په ( ج ) فقره کي هم د انساني کرامت پر خلاف د هر شرمونکي او سپک چال چلن د مخنیوي بیان راغلئ دئ.[۷۴]***

***راسئ اوس نو د همدغو مهمو او معتبرو بین المللي اسنادو په رڼا کي وګورو، چي امریکایي او ایتلافي لښکرو په تېرو یوولسو کالو کي زموږ د رټېدلو خلګو له انساني کرامت سره څه چلن کړئ دئ.***

***دا حقیقت له هیچا( افغانانو او نړیوالو) پټ نه دئ، چي امریکایي او ایتلافي پوځونه له تېرو یوولسو کالو راهیسي د افغانستان په ګوټ ګوټ کي، شپه او ورځ، زموږ د مظلومو او بېوزلو هیوادوالو پرکورو ناڅاپي چاپې وهي؛ داسي مثالونه هم لږ نه دي، چي د خلګو د کورو دروازې په بمونو او نورو چاودونکو موادو الوزول سوي؛ او له هغه سره جوخت د تراهګرو عسکرو جوپې وکورو ته ور ننوتلي دي. ایا په داسي شرایطو او حالاتو کي، چي پردې عسکر د بلاوو او لېوانو په څېر، د شپې په نیمایي کي، د ملکي خلګو وکورو ته ور توییږي؛ او د کورنۍ د غړو له فزیکي تلاښۍ څخه نیولې بیا تر بورجل و غوجل و تاخانې و پسخانې و اشپزخانې پوري په هر څه کي بې شرمانه پلټنې کیي، مظلومو افغانانو ته د انساني کرامت، شخصي مصوونیت، محرمیت، د دیني عقایدو او اولسي دود و دستور د درناوي په نامه څه پاتېږي؟! ایا د بشر د حقوقو د نړیوالي اعلامیې او د بین المللي حقوقو د ډېرو نورو معتبرو اسنادو د لاربښوونو او سپارښتنو له مخي، څوک دا حق لري، چي د اړوند هیواد د واکمنو عدلي او قضایي مقاماتو بې رسمي اجازې د چا وکور یا نورو محرمو ودانییو ته ننوزي؛ او د اوسېدونکوپه ګډون یې په هر څه کي تلاښۍ او پلټني وکي؟! ایا د کوچنیانو، ښځو او نارینه وو تراهول، سپکاوی او بې عزتي، څه ښکرونه یا لکۍ لري؟! ایا د مسلمانانو د مقدس دیني کتاب په توګه د قرآن مجید بې باکانه سوځل، د وسله والو مخالفینو یا کلیوالو افغانانو د مړو سوځل، د ساتېري او تفنن په خاطر پر بې ګونا کلیوالو ښبان پخول، د وژل سوو کسانو د بدن د غړو پرېکول او له هغو سره د ملنډو او سپکاوي په ښه عکسونه اخیستل، د وژل سوو کسانو پر اجسادو بولي کول، د لسو کالو پر ماشومانو جنسي تېری او داسي نور وحشیانه جنایتونه د مظلومو افغانانو و انساني کرامت ته د اشغالګرو لښکرو د درناوي او پتمن چال چلن څرګندوی دي؟! که کرزی، فهیم، خلیلي، سیاف، عبدالله، قانوني، ضیا مسعود، معلم عطا، دوستم، محقق، اسماعیل خان، ګیلاني، مجددي، ارسلا، غني احمدزی، احدي، سپنتا، اتمر، جلالي او د استعمار نور میراثخواره د خپلو بادارانو و دغه راز عملو ته د جرم او جنایت په سترګه نه ګوري څه عجبه خبره نه ده؛ ځکه د دوی په وجود کي له کلونو راهیسي د افغانیت او انسانیت روح مړه سوې ده؛ خو سرلوړي افغانان او خپلواکه نړۍ تول دغه کرغېړن عملونه د یرغلګرو لښکرو نه بخښوونکي بشري ضد او جنګي جنایتونه ګڼي. ګران لوستونکي کولای سي، په لمنلیک کي د وړاندي سوو اینټرنیټي پاڼو په لیدو سره د« بشر ي حقوقو »،« تمدن »، « اولسواکۍ » او« قانون واکۍ » د منافقو مدعیانو د وحشیانه عملو په باب، قضاوت وکي.[۷۵]***

د امریکایي چارواکو له خوا د قرآن کریم د سوځلو او افغان مړو د بې حرمته کولو و مرتکبینو ته یوازي د تش په نامه اداري او وظیفه یي جزاوو ورکول، ټول د دې واقعیت ښکارندوی دي، چي امریکایي او ایتلافي دولتونه اصلاً د مظلومو افغانانو پر ضد د خپلو ایله جاري لښکرو و بېلابېلو جنایتو ته د جرم او جنایت په سترګه نه ګوري؛ ځکه ټول ګورو چي مجرمینو ته د تش په نامه اداري او ډیسپلیني جزاوو په ورکولو سره د هغو د کرغېړنو عملو له جرمي او جنایي ماهیته سترګي پټیي. لکه څنګه چي دا نن هم په نړیواله میډیا کي د افغانستان مېشت امریکایي پوځیانو د شرمناکو جرمي عملو له جنایي ماهیت څخه د سترګي پټولو په اړه خبرونه خپاره سول.[76] که له ناچارییه د خپلو لښکرو پر بشري او جنګي جنایتو اعتراف هم وکي، سمدلاسه په ټګی برګی سره د هغو و مرتکبینو او شریکانو ته د روحي او ذهني ناروغانو رنګ ورکیي. تر څو په دې توګه د خپل استعماري یرغل پر انساني ضد ماهیت پرده واچیي. د خلګو و عقایدو ته سپکاوی، د مړو پر جسدو بولي کول، د مړو سوځل، د مړو د بدن د غړو پرېکول او داسي نور وحشیانه جنایتونه هیڅکله د تنزیل مقام، اضافه خدمت، خشره کاری، د قطعې د حبس، شفاهي یا تحریري تأدیب یا له ځینو حقوقو او امتیازاتو څخه د بې برخي کېدو په اداري او وظیفه یي جزاوو نه تلافي کیږي. دا خطرناک بشري ضد عملونه د مرتکبینو د ساده غفلت یا اِهمال نتیجه نه، بلکي د هغوی د پیاوړي مجرمانه روحیې زېږنده دي؛ ځکه یې نو باید له طراحانو، عاملینو، معاونینو او شریکانو سره هم **د مجرمینو په توګه جدي معامله وسي. واقعیت دا دئ، چي دا کرغېړن عملونه پر افغانستان او مسلمانو هیوادو سربېره د غربي هیوادو په جزایي قوانینو او قضایي رویو کي هم خطرناک جرمونه ګڼل کیږي. توپیر یوازي دا دئ، چي د لوېدیځو هیوادو واکمني دېلي دا وحشیانه عملونه د خپلو خلګو پر خلاف لوی جنایتونه، خو د استعمار ځبلو هیوادو د بې دفاع او بې پوښتني اولسو پر خلاف ساده او معمولي خطاوي ګڼي. د اشغالګرو دولتو د« یوه بام او دوو هواوو» دا انساني ضد چلن په حقیقت کي د هغو د هغه کرغېړن استعماري سیاست یوه برخه ده، چي له پېړییو پېړییو راهیسي تر ننه جاري دئ. څه موده مخکي د اوباما اداري تر درو کالو څېړنو او پلټنو وروسته نه یوازي د سي. آی. اې. و هغو کارکوونکو ته بشپړ برأت ور کئ، چي د بوش د اداري د واکمنۍ پر مهال د بې ګونا خلګو په تښتَوَنه (rendition)، ځورَوَنه او وژنه کي ښکېل وه، بلکي حتا دونه یې هم و نه کړای سوه، چي د راتلونکو وختو دپاره د بندیانو د شکنجې او تعذیب د مخنیوي په مخسد یوه کوچنۍ پرېکړه وکي. د ډېري خواشینۍ ځای خو لا دا دئ، چي د اوباما اداري د مظلومو افغانانو او عراقیانو د شکنجې او تعذیب مسوولین نه، بلکي د سي. آی. اې. هغه ایجینټ( جان کیریاکو ) و محکمې ته و لېږلئ، چي په یوه تلوېزوني مرکه کي د سي. آی. اې. له خوا د بندیانو( ابو زبیده ) د شکنجه کولو( واټربورډینګ ) رسمي پالیسي رسوا کړې وه.[77] د شکنجې او تعذیب و مسوولینو هیڅ نه ویل او د سي. آی. اې. او نورو امنیتي - استخباراتي سازمانو د کرغېړنو سیاستو د رسوا کوونکو محاکمه کول په خپله د څه حقایقو ښکارندوی دئ؟! ایا دا تور او ظالمانه سیاست په څرګنده نه ښیي، چي د اوباما اداره هم بوش اداري غوندي د معصومو خلګو په شکنجه او تعذیب کي بشپړ لاس لري؟!**

کشکي د امریکایي او انگرېزي لښکرو اوسنیيو مشرانو له پردو اسیرانو سره د خپلواکي مینو افغانانو د نېک سلوک په اړه د خپلو نېکونو کتابونه او یادښتونه لوستي وای؛او د هغو له مخي یي د افغانانو د عظمت او صلابت په باره کي سوچ کړئ وای؛ مثلاً د جنرال سر هنري رابرټ سېل مېرمن- فلورینشیا/ وینچ سېل **(Florentia/ Wynch Sale)** (۱۷۹۰ - ۱۸۵۳ع )، چي په لېډي سېل **(Lady Sale)** مشهوره وه، په خپل ارزښتناک تاریخي اثر( په افغانستان کي د ناورینو ژورنال یا پیښلیک، ۱۸۴۱- ۴۲) کي، په ډېرو روښانه ټکو، د انگرېزي پوځ د قومندانانو او سیاسي مشرانو له یرغمل سوو ښځو سره د وزیر اکبر خان او نورو افغان مشرانو د ښې او محترمانه گوزارې یادونه کیي. دا کاږي:« سره له دې چي موږ په واقعیت کي د جنگ اسیران وو؛ خو اکبر خان همېشه د قدرمنو مېلمنو په نامه یادولو. زه اعتراف کوم، چي زموږ سره ښه چلن کېدئ.»[۷۸]

د جنگ او تاوتریخوالي پر ټولو خونړییو پېښو سربېره هیڅکله دا نه دي اروېدل سوي، چي د امریکایي اشغال او مزدور رژیم وسله والو مخالفینو د چا مړی سوځلئ یي یا یې پر جنگي اسیرانو او یرغمل سوو کسانو جنسي تېری کړئ یي یا یې د سپکاوي او اهانت په توگه د پردو عسکرو یا نورو مخالفینو پر مړو بولي کړي یي... ایا له دې ټولو خبرو څخه دا نه مالومیږي، چي د دوی په گومان « وحشي» او« بې فرهنگه » افغانان هم په ډېرو برخو کي تر تش په نامه « متمدنو» او« بشردوستو» یرغلگرو لوړ انساني او اخلاقي معیارونه لري. ښایي د همدې اسلامي او افغاني دود و دستور له برکته ؤ، چي برتانوی ژورنالیستي او سیاسي مبارزي، ایوّن ریډلي **(Yvonne Ridley)** تر پینځه څلوېښت( ۴۵) کاله عیسویت وروسته په ۲۰۰۳ع کال کي اسلام و مانه؛ او له هغه وخته تر اوسه په خپله خوښه هر ځای بشپړ اسلامي حجاب اغوندي. ایوّن ریډلي، هغه ژورنالیسته ده، چي د طالبانو د حکومت پر ټینگ خبرداري سربېره، بې ویزې، په افغاني کالو کي و افغانستان ته ننوتلي وه؛ او د ۲۰۰۱ع کال د سپټمبر پر اته ویشتمه ( ۲۸) نېټه د طالب چارواکو له خوا د ننگرهار په دور بابا اولسوالی کي ونیول سوه. سره له دې، چي د طالبانو مشران په هغو ورځو کي د امریکا او برتانیا د پوځي یرغل له سختو گواښو سره مخامخ وه؛ او له هر پردي شخص څخه یې د لوی خطر احساس کاوه؛ خو پر دې ټولو حساسیتو سربېره یي ایوّن ریډلي تر ځینو لندو پوښتنو او پلټنو وروسته، په ډېر احترام او عزت له بنده ازاده کړله.[۷۹] په دې وروستییو وختو کي د نیویارک ټایمز پخواني خبریال، اوسني خپلواک ژورنالیست او مؤلف - جیري وّان ډایک **(Jere Van Dyk)** د روسیې له « آر ټي » تلوېزون سره په یوه مرکه کي د امریکایي لښکرو د استعماري نخشو د رسوا کولو تر څنگ د پښتنو د خپلواکی غوښتونکو مبارزو، ویاړلو دودو او داسي نورو تاریخي حقایقو په اړه اوږدې خبري وکړي. ده له طالبانو سره د خپل پینځه څلوېښت( ۴۵) ورځني بند په اړه و ویل:« که څه هم زه د طالبانو په بند کي وم، خو سره له هغه یي همېشه یوه قدرمن مېلمه غوندي، په ډېر عزت او درناوي، گوزاره را سره کوله.»[۸۰]

د زړورو او خپلواکی مینو افغانانو په ویاړلي تاریخ کي له یرغمل سوو غلیمانو سره د دغه راز لوړ انساني چلن مثالونه خورا ډېر دي. دا پرتمین مثالونه په حقیقت کي نه د دې یا هغي جنگي ډلي، بلکي د دې ویاړلي خاوري د ټولو ننگیالییو بچانو د مړاني، غرور او مناعت ښکارندوی دي، چي هیڅکله د یرغلگرو لښکرو له مانوي( معنوي ) او اخلاقي انحطاط سره د پرتلي وړ نه دي. په داسي شرایطو او حالاتو کي هم د یرغلگرو لښکرو ځیني سیاسي- عسکري مشران لکه د بیاروزني د پروگرام مشر- برید جنرال ډېوّیډ هوک**(Major General David Hook)** د خپلو لښکرو پر تور او کرغېړن ریکارډ سربېره د مخالفو وسله والو ډلو د بشري ضد او جنگي مجرمینو د محاکمي خبري کیي.[۸۱] د مخالفینو د محاکمي ادعا خو باید هغه مظلوم او غملړلي افغانان وکړي، چي بې گونا او تعدا یې له هره

لوري په سر، مال او ناموس بازۍ سوي؛ او لا تر اوسه کيږي، نه هغه يرغلګر پوځونه، چي په افغانستان او درسته سيمه کي د خونړيو حالاتو او وحشتناکو جنايتو علت العلل ګڼل کيږي.

---

**لمنليکونه**

[72] United Nations, **The Universal Declaration of Human Right** , adopted on 10 December, 1948: http://www.un.org/en/documents/udhr/

[73] Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights, **International Covenant on Civil and Political Rights**, adopted on 16 December 1966, effective from 23 March 1976: http://www2.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

[74] **ICRC**, Convention (IV) relative to the Protection of Civilian Persons in Time of War, **Geneva, 12 August 1949: http://www.icrc.org/ihl.nsf/full/380**

[75] Daniel Bates and Lee Moran, **'Disgusting' video is 'recruitment tool for the Taliban': Outrage across the world after footage emerges showing U.S. troops 'urinating on dead Afghan bodies'**, Mail Online, 12 January 2012: / http://www.dailymail.co.uk/news/article-2085378/US-troops-urinating-dead-Afghan-bodies-video-used-Taliban-recruitment-tool.html; Daniel Bates and Mark Duell, **'Death Squad': Full horror emerges of how rogue U.S. brigade murdered and mutilated innocent Afghan civilians - and kept their body parts as trophies**, Mail Online, 23 September 2011: http://www.dailymail.co.uk/news/article-1370758/Shocking-video-shows-U-S-troops-cheering-airstrike-blows-Afghan-civilians.html#ixzz24YwMFRtG; ——, Report: "**UK soldiers rape Afghan kids**", Press Tv, Jan 18, 2012: http://edition.presstv.ir/detail/221763.html; —— , **"British soldiers in Afghanistan have raped two children aged ten",** You Tube, Uploaded on 19 Jan, 2012: http://www.youtube.com/watch?v=3o8JEERaGuY; ——, **"US forces raped two women in Kandahar carnage**", Raped by Soldiers, 17th March 2012: http://couchtripper.com/rapedbysoldiers/?cat=4

[76] ——,"**US troops escape criminal charges for incidents that outraged Afghanistan**", The Guardian, Tuesday, 28 August 2012: http://www.guardian.co.uk/world/2012/aug/28/us-troops-burning-qurans-urinating-on-corpses

[77] *Bill Van Auken**, "US Justice Department closes CIA probe with no charges in torture, murder of detainees"**, WSWS.Org, 1 September 2012: http://www.wsws.org/articles/2012/sep2012/gwot-s01.shtml; RT, "**US Acquits CIA of Killing and Torturing of Prisoners**", Information Clearing House, August 31, 2012: http://www.informationclearinghouse.info/article32322.htm*

[78] *Lady Sale, **A Journal of the Disasters in Afghanistan, 1841-2** (London: John Murray, 1843) 404 - 05.*

[79] **——**, **Yvonne Ridley**, From Wikipedia, the free encyclopedia. http://en.wikipedia.org/wiki/Yvonne_Ridley; Hannah Bayman, "**Yvonne Ridley: From captive to convert** ", BBC News Channel, Tuesday, 21 September, 2004: http://news.bbc.co.uk/1/hi/england/3673730.st

[80] **——**, **'US has never been straight with its people about its foreign policy aims',** RT, 14 September, 2012: http://rt.com/news/taliban-jere-van-dyk-captive-policy-interview-154/

[81] David Loyn, **'Progress' with Taliban in Afghanistan**, BBC News Channel, 31 August, 2012: http://www.bbc.co.uk/news/world-middle-east-19432593

پاته په راتلونکي برخه کي